شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

د تأسيس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۰۶ گڼه / پنجشنبه ۱۳ رمضان‌المبارک ۱۴۴۶ هـ.ق / د کب ۲۳مه ۱۴۰۳ هـ.ش / ۱۳ مارچ ۲۰۲۵ میلادي

افغانۍ خپل ټیکاو ته رسېدلې او ارزښت یې لوړ شوی

د افغانستان بانک په خپله ایکس پاڼه لیکلي چې په دې وروستیو کې د ډالرو پر وړاندې د افغانیو ارزښت د پام وړ لوړ شوی دی.

د یاد بانک د خبرپاڼې له مخې، په بازارونو کې اوس وخت کې د کابل په بازارونو کې یو ډالر شاوخوا ۷۰ افغانۍ پېرل کیږي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د ډالرو ارزښت لوړ شوی و او له گڼ هېوادوال یې اندېښمن کړي وو. د ډالرو لوېدل د افغانستان پر بازارونو هم سیده اغېزه لري او تمه شته چې خوراکي او ناخوراکي توکو بیې هم ورسره ټیټې شي.

ملا حمدالله فطرت: افغانستان یو امن هېواد دی او دلته هېڅ ډول خپلسري فعالیت ته اجازه نه شته

اسلامي امارت د ملگرو ملتونو امنیت شورا وروستۍ غونډې پر مهال د پاکستان د استازي منیر اکرم او ځینو نورو څرگندونې عقدوي او له حقیقت څخه لرې بولي.

اسلامي امارت وېلي، چې افغانستان یو امن هېواد دی او دلته هېڅ ډول خپل سري فعالیت ته اجازه نه شته.

د اسلامي امارت ویاند ملا حمدالله فطرت د یوه غږیز پیغام له لارې څرگنده کړې، چې د افغانستان په اړه ناعادلانه او کرکجن **۷مخ**

د ریشخورو د لبنیاتو کارخونه بیافعالېږي

د کرنې اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت خبر ورکړی، چې د کابل ریشخور لبنیاتو فابریکې د بیا فعالېدو قرارداد له یوې خصوصي کمپنۍ سره لاسلیک شو. د کرنې او مالدارۍ وزارت مرستیال صدراعظم عثماني د دې قرارداد د لاسلیک پر مهال ویلي، دغه فابریکه د مالدارانو د ملاتړ، کاري فرصتونو رامنځته کېدو، د لبنیاتو د تولید پراختیا او د هېواد اقتصادي پیاوړتیا په موخه جوړه شوې. نوموړي ویلي، قراردادي شرکت به د قرارداد مطابق د کابل، لوگر، میدان وردگو او نورو ولایتونو څخه شیدې راټولوي او پروسس کوي، څو افغانستان د لبنیاتو برخه کې ځان بسیاینې ته ورسېږي. د ریشخور لبنیانو فابریکه په یو وخت د ۴۰ لیتره او په ۲۴ ساعتونو کې د ۱۰۰زره لېټرو شیدو د پروسس ظرفیت لري چې ترې ۱۲ ډوله لبني محصولات تولیدېږي.

بگرامیو ولسوالۍ کې یو ستر جومات جوړ شو

د کابل ولایت د بگرامیو ولسوالۍ اړوند کوز قلعه حسن خان د دولت زیو په کلي کې د مسجد النُّور په نوم یو لوی او مرکزي جامع جومات جوړ او پرون د حج او اوقافو وزارت د سرپرست او نورو چارواکو په شتونه کې پرانیستل شو.

د دغه جومات د پرانېستي په مراسمو کې د ارشاد، حج او اوقافو وزیر شیخ الحدیث نور محمد ثاقب، د کورنیو چارو وزارت لومړی مرستیال مولوي محمد نبي عمري، د کابل ولایت والي امین الله عبید، ددې وزارت مرستیالانو مولوي عارف الله عارف، شیخ مولوي عزیزالرحمن منصور او شیخ الحدیث زرمحمد حقاني، جیدو شیوخو، علماء کرامو، د دولت زیو قومي مشرانو او د منطقې مخورو گډون کړی وو.

د ارشاد، حج او اوقافو وزیر شیخ الحدیث نور محمد ثاقب د قرآن عظیم الشان او نبوي احادیثو په رڼاکې د جومات په فضیلت او همدارنگه په ټولنه کې د جوماتونو د جوړولو پر اهمیت او ارزښت مفصلې خبرې وکړې.

نباغلی ثاقب وویل: دا جومات نه یوازې د یو قوم بلکې د دغې سیمې د ټولو ولسونو یو شریک جومات دی **۷مخ**

ننگرهار کې ۷۰ کیلو گرامه نشه‌یي توکي ونیول شول

د ۲۰۱ خالد بن ولید «رض» قول اردو سرحدي ځواکونو په ننگرهار کې ۷۰ کیلو گرامه اومه چرس نیولي دي.

یادې قول اردو ویلي، چې د عبدالله بن زبیر «رض» دویمې سرحدي لواء د څلورم کنډک دریم ټولي ځواکونو دغه نشه‌یي توکي د ننگرهار د دورباba ولسوالۍ په تبۍ کنډو سیمه کې نیولي دي.

د ۲۰۱ خالد بن ولید «رض» د رسنیز دفتر په وینا؛ نیول شوي نشه‌یي توکي به له قانوني څېړنو وروسته اړوندو ادارو ته وسپارل شي او په ټینگار یې، چې د قاچاقبر د نیولو په موخه عملیات هم روان دي.

چهار تفاهمنامه در وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان امضا شد

وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان می‌گوید، چهار تفاهمنامه همکاری به ارزش ۷ میلیون و ۳۸۵ هزار و ۸۵۰ دالر امریکایی میان این وزارت و موسسات ملی و بین‌المللی به امضا رسیده است.

به گفته وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان قرار است این مبلغ در بخش توزیع کمک‌های نقدی، حفاظت و بهبود سرپناه، تهیه و نصب تجهیزات و وسایل برق آفتابی، آموزش‌های فنی و ظرفیت‌سازی برای بیجا شدگان داخلی و عودت‌کنندگان به مصرف برسد. **ص۷**

سرمقاله

د کب ۲۴مه؛ د هېواد تاریخ کې حک شوې ورځ

افغانستان په خپل زرین تاریخ کې داسې ډېرې زریني او ویاړمنې ورځې لري چې ټول افغانان پرې ویاړېدلی او گډ ارزښت یې بللی شي. دا ورځې ځکه اړینې او د ټولو افغانانو د ویاړ ورځې دي چې د ټولو افغانانو په گډ تصمیم او اقدام ترلاسه شوي دي.

له دغو زرینو ورځو یوه هم د کب ۲۴مه ده. دا هغه ورځ ده چې د هرات ولسونه په یوه غږ د وخت د جابر رژیم پر وړاندې راپورته شول او د تکبیر ملکوتي نعرې یې پورته کړې. دوی د کمونستي اشغال پر وړاندې راپاڅېدلي وو او د هرات په گډون یې ټول هیواد له دوی پاک غوښت. د کمونیستي رژیم ډله ییزې وژنې، د هېواد د علماوو او نخبه گانو له منځه وړنه، هېواد ته د دهریانو راوستل او نور به تل د ددې ډلو ټپلو پر تندي د تور داغ په څېر پاتې وي. کمونیستي رژیم په ټول توان او قساوت نه یوازې د حق نعره غلې نه کړه، بلکې دا نعره د هېواد تر درو سردرو ورسېده، افغان شازلمي یې په ننگ راووتل او وسلې یې تر ملا کړې.

د کب ۲۴مې دا جوتوله چې افغان خاوره کې د پردي پالو د پښې اېښودو ځای نشته او دا خاوره پردیپال او د اسلام دوښمنان په هېڅ وجه نه شي منلی.

په همدې ورځ کمونیستانو تر ۲۰ زرو ډېر هراتیان په خپلو وینو کې ولمبول؛ خو دې قیام د وخت رژیم ورخطا کړ او د ابدي زوال پیل یې وگڼه. دې خلکو نه یوازې له ولسونو سره دوښمني راواخیسته؛ بلکې د اسلام مبین دین سره یې هم دوښمني اعلان کړه.

پر دې ورځ د غوریان او زنده جان ولسونو په خوځښت شول او وروسته ورسره د هرات ټولې پرگنې یوځای شوې. دوی په تش لاس **۷مخ**

چهار اثر تاریخی به موزیم مجاهد در میدان‌وردک اهدا شد

مسوولان محلی ولایت میدان‌وردک می‌گویند، چهار قلم اثر تاریخی به موزیم «مجاهد» از سوی ریاست اطلاعات و فرهنگ این ولایت اهدا شده است.

به‌گفته مولوی حبیب‌الله مجاهد، رییس اطلاعات و فرهنگ ولایت میدان‌وردک اثرهای تحویل داده شده، شامل یک مجمه که روی آن یک آیه سوره نور میناتوری شده، یک پایه قندانی مسی، یک عدد پیش قبضه **ص۷**

توسعه روابط دیپلوماتیک و اقتصادی امارت اسلامی در آسیای مرکزی ص۲

اشغال؛ فکري جگړه او وارداتي ارزښتونه ۴مخ

ملي اتلان څوک دي؟ ۳مخ

عمر فاروق رضی الله عنه نماد پُر اُبُهَت نظام های اسلامی است ۵مخ

په جوماتونو کې د اسانتیاوو برابرولو ثواب

نوري

اسلام په سپېڅلي دین کې جومات جوړول او په کې اسانتیاوې برابرول ستر ثواب او فضیلت شمېرل کېږي. په جومات کې مسلمانان سره راټولېږي د خدای پر عبادت لاس پورې کوي. جومات جوړونکي او له جومات سره مرسته کوونکي د خدای(ج) له ثواب څخه برخمنېږي. اسلامي امارت شاواخوا درې کلونه کېږي، د جوماتونو رغولو او جوړولو ته پاملرنه اړولې ده. څومره، چې په جوماتونو کې درنو امامانو او لمونځ کوونکو ته اسانتیاوې برابرې شي هغومره په هوسا ډول د خدای عبادت پر ځای کولی شي. د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد په خپل ایکس پاڼه رسنیوته لیکلي« اسلامي امارت د زعیم امیر المومنین حفظ الله د فرمان پر بنسټ د هېواد ټولو جوماتونو ته برښنا وړیا شوه او لګښت ترې نه اخیستل کېږي.» ښاغلی مجاهد په دغه پاڼه کې زیاته کړې چې« د جوماتونو د برښنا لګښتونه معاف دي او اړوند ادارې دې په راتلونکې کې د یادو لګښتونو د تادیې غوښتنه نه کوي». په جوماتونو کې امامان د برښنا د ستونزو سره مخ وو، خو د دغه فرمان څخه وروسته په جوماتونوکې به د برښنا اسانتیاوې منځ ته راشي. جومات د خدای خونه ده، چې په ټولو مسلمانانو پورې تړاو لري. درنو دیني علماوو د جومات د فضیلت په هکله د پیغمبر له احادیثو څخه روایتونو کړي، چې خلک د جومات د درجې له لوړوالي څخه خبر شي. دغه روایتونه د خلکو د پوهاوي لپاره ډېر ګټور دي. اوس، چې موږ د روژې مبارکې میاشتې د نیولو او تېرولو په درشل کې یو، د جماعت او تراویح لمونځ په جومات کې ډېر ثواب لري. جومات د ځمکې پر مخ د دین د نصرت او قیام د پاره لومړنۍ نښه او ځای دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله قبا ته ورسېد هغه سیمه چې له مدینې څخه درې میله لرې ده او هلته یې د قبلې د مشر شیخ عمر بن عوف کور ته ورغی. دوشنبه ، سه شنبه ، چهار شنبه او پنځشنبه په قبا کې پاتې شو او په هغه ځای کې یې لومړنی کار د جومات جوړول وو، چې خپله یې د هغه بنسټ کېښود او په جوړولو کې یې برخه واخیسته. دا جومات د اسلام په تاریخ کې لومړی جومات بلل کېږي او همدارنګه کله چې مدینې منورې ته د هجرت په نیت ورسېدل د صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو لومړنی فعالیت د نبوي جومات جوړول وو. مسجد نبوي جومات هم د عبادت ځای وه هم مدرسه وه او دارالشوری (د مشورې ځای) وه. د اسلامي علماوو په اند «د جومات جوړولو په باره کې په قرآنکریم او سنتو کې ډېر فضائل راغلي دي چې یوه برخه یې په لاندې ډول ده . قال الله تبارک وتعالی : ژباړه : «یقیناً د الله جل جلا له جوماتونه هغه څوک ابادوي چې پر الله ج او آخرت ایمان ولري لمونځ کوي زکات ورکوي او له الله ج پرته (له بل چا څخه) نه ویرېږي». نو هیله ده چې دغسې کسان د سمې لارې موندونکي وي. سر بېره پر دې د مسافر لپاره د استوګنې ځای ، ویاله یا کوهي جوړول او هغه صدقه چې د روغتیا او ژوند په وخت کې چا ادا کړې وي د هغې به هم اجر او ثواب ولري.جومات د اسلام هغه ستره نښه او شعار دی چې د دې ځای څخه خلکو ته د یوه الله ج د عبادت ناره او بلنه ورکول کېږي ، جومات د یو الله د عبادت ځای دی. جومات د مسلمانانو د یووالي بنسټ بلل کېږي .جومات د هغه عبادت ځای دی چې په اسلام کې د توحید څخه وروسته دوهم رکن بلل کېږي چې په قرآن او سنتو کې پر لمانځه زیات ټینګار شوی دی دا دومره ستر عبادت دی چې په هېڅ حالت کې یې پرېښودل جواز نه لري.د جوماتونو جوړول او لمونځ کوونکو ته په کې اسانتیاوې برابرول ډېر ثواب لري.

توسعه روابط دیپلوماتیک و اقتصادی امارت اسلامی در آسیای مرکزی

تحلیل: خبرگزاری سینترال آسیا - ترجمه و تخلیص: احمد ضیا سروری

به تاریخ ۲۲ فبروری ۲۰۲۵، در جریان دیدار با عبدالله عریپوف، صدراعظم ازبیکستان، ملا عبدالغنی برادر، معاون امور اقتصادی ریاست الوزراء امارت اسلامی، از ازبیکستان خواست، تا در بخش های بازسازی زیربنا های اساسی، از جمله خط آهن مزار شریف - هرات و تونل دوم سالنگ، همکاری و سرمایه گذاری نماید. این پروژه ها برای بهبود ارتباطات و افزایش تجارت میان آسیای مرکزی و جنوبی نهایت حیاتی پنداشته می شوند. آقای برادر بر تعهد امارت اسلامی به ثبات منطقه ای و تقویت روابط اقتصادی تأکید ورزید، در حالی که ازبکستان نیز حمایت خود را از گسترش همکاری ها و پیشبرد ابتکارات مشترک اعلام نمود. دیپلوماسی امارت اسلامی افغانستان، در آسیای مرکزی به طور فزاینده ای بر همکاری اقتصادی متمرکز شده و توسعه زیربناها و گسترش تجارت را در اولویت قرار داده است.

تغییر استراتژی منطقه ای نسبت به امارت اسلامی افغانستان

پس از حملات ۱۱ سپتامبر، نیروی های نظامی به رهبری امریکا وارد افغانستان شد و کشورهای آسیای مرکزی با ارائه ای حمایت نظامی، دسترسی جاده ای و حریم فضایی با امریکا همکاری کردند. در ابتدا، این کشورها مخالف امارت اسلامی بوده و از جریان های ضد امارت اسلامی حمایت می‌کردند. اما با گذشت زمان، امارت اسلامی افغانستان با تغییر استراتیژی و کاهش حمایت آشکار از گروه های تندرو در آسیای مرکزی، باعث تغییر رویکرد برخی کشورهای منطقه به سوی موضعی بی طرف تر شده اند. در جریان روند صلح دوحه، نمایندگان کشورهای آسیای مرکزی چندین نشست با تیم مذاکره کننده‌ی امارت اسلامی برگزار نمودند، که زمینه را برای روابط پس از خروج امریکا فراهم ساخت. با خروج نیروهای آمریکایی در آگست ۲۰۲۱ و بازگشت امارت اسلامی افغانستان به قدرت این تغییر، بازیگران منطقه ای را مجبور به بازنگری در سیاست های خود کرد، به گونه ای که میان نگرانی های امنیتی و منافع اقتصادی و ژئوپلیتیکی تعادل برقرار نمایند. با وجود این نگرانی ها، بیشتر کشورهای آسیای مرکزی سفارت های خود را در کابل باز نگه داشتند و تعاملات سیاسی و اقتصادی خود را با امارت اسلامی آغاز نمودند.

تمرکز امارت اسلامی بر سیاست اقتصادی در منطقه

افغانستان که با مشکلات ناشی از تحریم ها، مسدود شدن دارایی ها، کاهش کمک های خارجی، بحران آب و عدم رسمیت بین المللی روبه رو است، سیاست خارجی خود را بر اقتصاد متمرکز ساخته است. در این راستا، توسعه زیربنا های حمل و نقل در اولویت قرار داده شده است، از جمله راه آهن مزار شریف - هرات - کندهار (به طول ۱۴٦۸ کیلومتر) که در ماه می ۲۰۲۳ تصویب شده و همچنان خط آهن اسپین بولدک - کندهار که قرار است آسیای مرکزی را به آسیای جنوبی متصل سازد.

پیامد های منطقه ای بازگشت امارت اسلامی به قدرت

بازگشت امارت اسلامی به قدرت، ژئوپلیتیک منطقه را متحول ساخته و مناسبات اقتصادی را دگرگون کرده است. با خروج امریکا و دیگر نیروهای غربی، بازیگران منطقه ای همواره تلاش کرده اند، تا موقعیت خود را تقویت نمایند. امارت اسلامی نیز برای شکستن انزوای سیاسی و اقتصادی خود، به دنبال ایجاد همکاری های جدید دست به کار شده اند. در حالی که کشور های آسیای مرکزی به تعامل با امارت اسلامی افغانستان ادامه می دهند. از سوی دیگر، این کشورها روابط خود را با قدرت هایی چون چین و روسیه تقویت کرده اند. این تغییرات اساسی، پرسش های مهمی را درباره ای نقش افغانستان در منطقه مطرح می‌کند، به خصوص در زمینه همکاری های امنیتی، مبارزه با تروریزم و مدیریت مرزی. ازبیکستان نخستین کشور آسیای مرکزی بود، که یک هیئت امارت اسلامی را میزبانی کرد. در سپتامبر ۲۰۲۱، مولوی عبدالسلام حنفی، معاون رئیس الوزرای امارت اسلامی، به ترمذ سفر کرد و دو طرف پروتوکلی را در زمینه امنیت و تجارت امضا نموده و روابط اقتصادی خود را گسترش دادند. در اپریل ۲۰۲۳، ازبیکستان میزبان چهارمین نشست وزیران خارجه‌ی کشورهای همسایه افغانستان در سمرقند بود، تا اوضاع این کشور را مورد بررسی قرار دهند. با ادامه‌ی جنگ روسیه و اوکراین که باعث اختلال در مسیرهای تجاری شده، ازبکستان در تلاش است مسیرهای جایگزین بیابد. در آگست ۲۰۲۴، صدر اعظم ازبیکستان به کابل سفر کرد و توافقاتی را به ارزش ۲.۵ میلیارد دالر با کابل به امضا رساند. حالا میزان تجارت میان دو کشور به ۸٦۰ میلیون دالر افزایش یافته است. ازبیکستان همچنان در پروژه‌ا ی راه آهن ترانس-افغان که مزار شریف را به بندرهای پاکستان متصل می‌سازد، نقش کلیدی دارد.

نقش سایر کشورهای آسیای مرکزی در تعامل با امارت اسلامی افغانستان

قزاقستان که از تأمین‌کنندگان عمده ای گندم، آرد و روغن به افغانستان است، پس از تسلط امارت اسلامی، سفارت خود را در کابل باز نگه داشته و روابط دیپلوماتیک را گسترش داد. از سال ۲۰۲۳، سه فورم تجاری در آستانه، آلماتی و کابل برگزار شد که منجر به امضای توافقاتی به ارزش ۱.۵ میلیارد دالر گردید. تجارت دوجانبه در ۹ ماه نخست سال ۲۰۲۴ به ۷۰۰ میلیون دالر رسید و انتظار می رود ظرف پنج سال به ۳ میلیارد دالر افزایش یابد. ترکمنستان که تاریخ بی طرفی در امور افغانستان دارد، از دهه ۱۹۹۰ روابط نزدیکی با امارت اسلامی داشته است. این کشور تأمین‌کننده ای اصلی نفت و گاز افغانستان بوده و سرمایه گذاری هایش در این کشور از ۱.۵ میلیارد دالر فراتر رفته است. پروژه ای خط لوله گاز ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند (TAPI) نیز از پروژه های کلیدی ترکمنستان در افغانستان میباشد.

در سپتمبر ۲۰۲۳، پنج بازار مرزی مشترک میان افغانستان و تاجیکستان گشایش یافته است. قرغیزستان، به دلیل نگرانی درباره ای وضعیت اقلیت قرغیزهای افغان در پامیر، تماس های زود هنگامی با امارت اسلامی برقرار کرد. از سال ۲۰۲۱، مقام های امنیتی قرغیزستان با امارت اسلامی دیدار های داشته اند و همکاری ها در زمینه های تجاری، حمل و نقل و انرژی گسترش یافته است. در فرجام، برای درک بهتر نقش امارت اسلامی در آسیای مرکزی، باید چگونگی ایجاد توازن میان چین و روسیه را بررسی کرد. در حالی که چین به دنبال ثبات در افغانستان برای تأمین مسیر های تجاری و جلوگیری از افراط گرایی در سین کیانگ است، روسیه بیشتر نگران مدیریت تهدید های امنیتی در حوزه ای نفوذ خود در آسیای مرکزی می باشد. امارت اسلامی افغانستان، با استفاده از موقعیت جغرافیای خود، افغانستان را به عنوان یک دولت حایل معرفی کرده و در تعاملات دیپلوماتیک نقش مهمی را بازی می‌کنند. از زمان به قدرت رسیدن دوباره، امارت اسلامی بر دیپلوماسی اقتصادی تمرکز داشته اند و تلاش کرده اند، تا همسایگان آسیای مرکزی را به سرمایه‌گذاری در افغانستان ترغیب کنند. توسعه ای همکاری های استخباراتی و تغییر در موازنه های اقتصادی جهانی نیز ممکن است بر نقش افغانستان در منطقه تأثیر بگذارد.

زکات نردبان تأمین عدالت اجتماعی

ضربی

درشریعت اسلام، جایگاه احسان، نیکوکاری ومعاونت به مستضعفان، بسیار والا بوده وهمواره توسط پیامبران الهی و پیشوایان دین اسلام، مورد سفارش قرار گرفته است ومهمتر از همه خداوند سبحان نیز بار ها در کلام مقدسش به این امر پسندیده اشاراتی داشته ومسلمانان را موظف به انجام آن نموده است.
درجهانی که ما قرار داریم، کمک به آسیب دیدگان حوادث طبیعی وغیر طبیعی ، ومستضعفان از مسیر سازمان ملل متحد ویا سازمان‌های عضو کنوانسیون های جهانی صورت می گیرد ، این کمک ها در ظاهر قضیه، دستگیری از آسیب دیدگان وقشر مستضعف است، اما در باطن بعضی این کمک ها ترفند های اند که در قبال خود بگو مگو های سیاسی دارند که نمونه های بسیاری را در خاور میانه ،افغانستان ودیگر نقاط جهان وکشورهای آسیب پذیر ، داریم که کمک کنندگان بین المللی گاهی از نحوه توزیع که گویا افراد ما در توزیع موادکمکی دخیل نیستند و یا هم از عدم امنیت وانتقال مواد کمکی به مناطق آسیب دیده و... شکوه و شکایت نموده ، اقدام به توقف ویا هم از سرگیری کمک ها سخن می زنند که با این واکنش های متفاوت درتلاش اند تا جامعه آسیب پذیر به ویژه جامعه اسلامی را زیر بار خود بیاورند که گویا اگرکمک ها بشر دوستانه ما قطع گردد فاجعه انسانی بارخواهدآمد، اما دین انسان ساز اسلام بخاطر این که در جامعه اسلامی مساوات وبرابری حاکم باشد وهیچ مسلمانی دست تکدی بر دیگری دراز نکند، دادن زکات را از جمله واجبات مالی در دین دانسته اند، همچنان تاکید بسیاری نیز بر آن شده که زکات نه تنها فروغ دین بوده ،بلکه در منابع دینی در کنار نماز وجهاد قرار گرفته ویکی از پنج رکن دین مبین اسلام دانسته شده است.
حالا که در ماه مبارک رمضان ، ماه انفاق ، عبادات، صدقات و...قرار داریم اشخاص توانمند وخیر باید با دادن صدقه فطر وزکات مال خود، مستمندان را یاری رسانند، زیرا خداوند سبحان بار ها در کلام مقدسش بر ادای زکات تاکید کرد وفرموده که(آن های که نماز را برپامیدارند، زکات را ادا می کنندو به آخرت یقین دارند، آنها بر طریق هدایت پروردگار شان هستند وآن ها یند رستگاران.) ودر آیه دیگر نیز می فرماید(نیکی، تنها این نیست که به هنگام نماز رو به سوی مشرق ویا مغرب کنید، بلکه نیکی ونیکو کار، کسی است که به خدا وروز رستاخیز ،فرشتگان ،کتاب های آسمانی وپیامبران ایمان آورد، مال خود را با تمام علاقه یی که دارد به خویشاوندان، یتیمان،مسکینان، واماندگان وبردگان انقاق کند).
پس حالا که خداوندعزوجل در آیات متعدد ما مسلمانان را بر ادای زکات وصدقات امر فرموده ودر مقابل آن ، پاداش نیکی در دنیا وسعادت درآخرت را بشارت داده چه بهتر است که این امر الهی را لبیک گفته آنانی که توانایی اقتصادی دارند ، زکات وفطر روزه‌ی خود را در جریان این ماه مبارک به مستحقان آن بپردازند تا نه تنها رضا وخوشنودی او تعالی را بدست آورند ، بلکه رسالت ایمانی واجتماعی خود را در قبال هموطنان خود نیز ادا نمایند تا با تأمین عدالت اجتماعی ، از وابستگی بر بیرونی ها رهایی یابیم.

ملي اتلان څوک دي؟

مفتي محب الله حقاني

طبیعي خبره ده، چې د هر چا په زړه کې د خپل هېواد سره مینه لرل ځانګړې ځای لري. تر ډېره حده دا خپل هېواد ورته قدرمن او محبوب وي، او پرته له دې، د خپل هېواد سره مینه لرل د هر چا لپاره یو ملي مسؤلیت ګڼل کېږي. حتی لرې به نه وي که د یوې عربي مقولې له مخې د خپل هېواد سره مینه لرل یوه مشروع خبره وبلل شي. عربي مقوله ده: «حب الوطن من الإیمان» یعنې د خپل هېواد سره مینه لرل د ایمان تقاضا ده.په هر حال، له خپل هېواد سره مینه لرل یوه طبیعي، فطري او مشروع خبره ده.
له همدې امله، هر وګړی په هره برخه کې د خپل هېواد په پرمختګ بې‌ساري خوشحالېږي او پرې ویاړي. همداراز، ولسونه دا خوښوي او هڅه کوي چې هېواد یې په سیالیو کې د سیالانو سر شي. د بېلګې په توګه: نن سبا چې د ځینو هېوادونو ترمنځ په لوبو کې سیالۍ ترسره کېږي، د هر هېواد اوسېدونکي دا خوښوي چې د دوی د هېواد لوبغاړي په دې ډګر کې بنه وځلېږي او د لوبې ګټونکی شي.همداسې، هېوادوال خپلې ملي لوبډلې په بېلا بېلو القابو ستایي او تشویقوي یې، څو دوی د بریا تر منزله ورسي؛ ځکه چې د دوی بریا د دوی د هېواد بریا ګڼل کېږي.په دې لړ کې، موږ افغان ملت هم د خپلو لوبغاړو په بریا ویاړو او بریا یې ستایو؛ ځکه دا، په حقیقت کې، زموږ د هېواد لپاره بریا او پرمختګ دی. په دې ویاړل کومه ناسمه او بده خبره نه ده، باید په بریا یې وویاړو، دا زموږ ملي مسؤلیت دی او په دې کې شرعاً و عرفاً کوم نقص او کمښت نشته، إن شاء الله تعالی.
البته، باید دې ته متوجه شو، چې زموږ په ملي لوبډله ویاړل او د هغوی ستاینه باید د مشروعیت له مخې په خپلو حدودو او چوکاټ کې د ننه وي. د هغوی په ستاینه کې باید دومره افراط او زیاتوالی ونشي چې ورته لوی لوی القاب ورکړل شي، اسمان څکې ترې جوړ شي، د زمانې یا هم ملي اتلان ورته وویل شي، لکه څنګه چې په ځینو رسنیو کې د ملي اتلانو په نوم یادېږي او په اتلولۍ ستایل کېږي، لکه دا د لوبو ډګر چې د اتلولۍ ډګر وي! که داسې شي؛ نو بیا به اتلولي دا وي: چې یو څوک د لوبو په ډګر کې په ښه لوبه کولو سره نورو لوبغاړو ته ماتې ورکړي، بس په دې سره به دا لوبغاړی اتل ثابتېږي، همدا به بیا د اتلولۍ معیار وي او د اتلولۍ صفت به په دې سره ترلاسه کېږي(!) کلا وحاشا!
نه، دا اتلولي نه ده، او نه دا د اتلولۍ معیار کېدای شي. نه د دې ډګر بازګران اتلان ثابتېدلای شي او نه باید دوی ته ملي اتلان وویل شي؛ ځکه دا د اتلولۍ معیار نه دی. هغوی ته باید یوازې ځوانه ملي لوبډله او یا تاند ملي لوبغاړي وویل شي، ځکه چې دوی ملي اتلان نه دي، بلکې ملي لوبغاړي او یا ملي لوبډله ده.په حقیقت کې، اتلولي د هغه چا صفت دی او هغه کسان ملي اتلان دي، چا چې په خپله مېړانه، غیرت او اتلولۍ سره د خپلو تاندو ځوانیو نذرانه کولو په مټ زموږ دین، هېواد او افغان ملت ته له پرله‌پسې اشغالونو څخه حریت، ازادي او خپلواکي وربښلې ده.چا چې دا هېواد او ملت د خپلو غوښو، وینو او خولو په برکت آزاد کړی او ساتلی دی.چا چې دا افغان ملت د اسلامي نظام په سپېڅلي سیوري کې پوښلی دی او د همدې سپېڅلي نظام د بقاء او استحکام لپاره یې د همت واړه متې رابډ وهلي دي.او چا چې مو د دین، هېواد او ملت دښمنان د تل لپاره دړې وړې کړي دي.او ملي اتلان مو هغه شازلمي دي، چې اوس هم د دې اسلامي نظام د تلپاتې کېدو په هیله یې تورې، توپکونه، ژبې او قلمونه خوځښت کوي او په هر راز، هر وخت کې د دې اسلامي نظام ساتلو ته ژمن او چمتو دي.همدا ملي اتلولي ده، همدا دوی ته باید ملي اتلان وویل شي، په همدغو به ویاړو؛ ځکه همدغه مو ملي اتلان دي، چې د تاریخ پاڼو ثبت کړي، او په زړو یې نقش کړي دي.

روژه د برکت او رحمتونو میاشت

اتمه برخه – مولوي ضیاء الحق «حسان»

د روژې د راتللو له امله به اسلافو خوښي ښودله یو او بل ته به یې زیري ورکول، علامه ابن رجب رحمه الله فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د روژې د راتللو زیری صحابه کرامو ته ورکولو. لطائف المعارف صفحه ۲۷۹
ابو هریرة رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله به صحابه و ته د روژې میاشتې د راتلو زیری ورکولو او ویل به یې: د روژې میاشت راغله دا یوه برکتي میاشت ده، الله تعالی په تاسو د دې میاشتې روژه فرض کړې، په دې میاشت کې د جنت دروازې خلاصېږي، د دوزخ دروازې بندېږي او شیطانان په زنځیرونو ترل کېږي. په دې میاشت کې یوه شپه ده چې له زرو میاشتو څخه غوره ده،څوک چې د دې خیر څخه محروم شي هغه له هر خیر څخه محروم شو.
شیخ سعید بن عبدالله الحمید وایي: کله به چې د روژې میاشت راورسېده عمر رضی الله عنه به ویل: زیری دې وي د هغه میاشتې لپاره چې زموږ د ګناهونو د بښلو سبب کېږي.
د سلفو صالحینو حالات په روژه کې صفحه ۲۵
سلفو صالحینو د دې میاشتې د راتلو له امله ځکه زیري ورکول چې دا میاشت د اور نه د خلاصون او جنت ته د تللو لار ده. ای وروره! دغه میاشت په غفلت مه تېروه، د دې میاشتې قدر وکړه، دلته دې نیک عملونه څو چنده زیاتېږي، غفلت مه کوه او د اخرت لپاره کار وکړه.
په دې میاشت کې نور روابط کم کړه د رب لور ته ګرندی میزل پیل کړه، د وخت لپاره دې تقسیم اوقات جوړ او زیات عبادتونه تر سره کړه، موږ او تاسو که د ورځې یوازې درې سپارې د قران کریم تلاوت وکړو د روژې میاشت کې به مو درې ځله قران کریم خلاص کړی وي، که د ورځې لس رکعته نفل اداء کړو د روژې میاشتې نفل مو درې سوه رکعته کېږي نو باید په روزانه توګه مسلسل عبادتونه وکړو دغه له هغه عبادت څخه زیاتېږي چې په یوه ورځ زیات عبادت وکړو، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: خوښ د عملونو الله تعالی ته همیشنی دی اګر که کم هم وي. محدثین کرام وایي کم عبادت چې دوامداره وشي دغه زیاتېږي او بل که د عذر له امله درنه پاتې شي الله تعالی یې اجر در کوي.

نور بیا...

روژه د سخاوت میاشت ده

مولوي نورالحق مظهري

د روژې مبارکه میاشت د سخاوت او پیرزوینې میاشت ده، په دې مبارکه میاشت کې نفسونه خپل اصلي خاوند ته نږدې کېږي او هغه څه ته را پورته کېږي چې دوی له بخالت څخه وربانډې پاکېږي، چې هغه د ژوند په هره برخه کې سخاوت دی.
د روژې په میاشت کې چې څوک د بخالت څخه وساتل شو بس هغه کامیاب او بریالی دی: الله پاک فرمایي:
ژباړه: هرڅوک چې د بخالت څخه وساتل شو نو بس هغه خلک کامیاب دي. [الحشر ۹]
رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې مبارکه میاشت کې تر بلې هرې میاشتې ډېر سخاوت کاوه په حدیث شریف کې راځي:
ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو خلکو سخي وو خو د روژې په میاشتي کې بیا بیخي ډېر سخي وو. [متفق علیه]
په دې خاطر چې په دې میاشتې کې د انسانانو نیک اعمال د دې تر څنګ چې د قبلېدلو درجې ته ډېر نږدې دي څو برابره ورته حسابل کېږي ځکه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په دې میاشتي کې ډېر سخاوت کوی او د نورو مسلمانانو لپاره هم په دې میاشتې کې سخاوت ډېر ثواب لري.
نو راځې په لاندي ټولو برخو کې سخاوت وکړو:
١ - سخاوت د مال په ورکولو.
٢ - سخاوت د پور په ببښلو.
٣ - سخاوت د مزدورۍ په ببښلو.
٤ - سخاوت تر مزدورۍ په ډېر مقدار سره د مال په ورکولو.
٥ - سخاوت د خلکو د حاجتونو په پوره کولو.
٦ - سخاوت د خپل رول او نفوذ په مصرفولو.
٧ - سخاوت د نیک شفاعت په کولو.
٨ - سخاوت د مشرۍ په وخت کې رعیت ته په یو ډول کتلو.
٩ - سخاوت د علم او پوهې په ښودلو.
١٠- سخاوت په عفو او بښنه باندې.
١١- سخاوت په ښو اخلاقو باندې.
١٢ - سخاوت په دعوت باندې.

اشغال؛ فکري جګړه او وارداتي ارزښتونه

نجیب‌الله جهادوال - نهمه برخه

له ښځو څخه د غرب د ملاتړ موخې

څرنګه چې پورته یادونه وشوه، غرب په دریيمه نړۍ په تېره اسلامي هېوادونو کې له ښځو څخه د ملاتړ په موخه په میلیاردونو ډالر پانګونې سره بېلا بېلې پروژې تطبیقوي او د افغانستان د اشغال پر مهال یې هم په سلګونو میلیونه ډالر په دې برخه کې ولګول، دا چې د دغه کار تر شاه کوم اهداف پراته وو، لاندې ورته کتنه کوو:

۱- د هغو مؤمنو ښځو د بې‌حجابه کولو هڅې چې خپل بچیان د اسلامي امت د دفاع لپاره قربانۍ ته وړاندې کوي، وروڼه یې شهیدانېږي او پلرونه یې د دین دفاع په سنګر کې پراته وي.

۲- په اسلامي هېوادو کې ښځو ته د حقوقو د ورکړې په نوم د فحشاء او بې‌دینۍ خپرول.

۳- نړیوالو ته د دې ښودل چې اسلام ښځو ته لازم حقوق نه دي ورکړي او خلکو ته ډیموکراسۍ د ښځو د اصلي حقونو د تأمینوونکې په توګه ور پېژندل.

۴- دا چې ښځه د کور ښکلا خو د بهر لپاره فتنه ده، نو ځکه یې په اسلامي هېوادونو کې د دغې فتنې را پیدا کېدو لپاره هڅې کوي.

۵- په مسلمانانو ځانګړې توګه افغانانو کې د جنګي احساس وژل او له دین څخه یې لېرې کول.

د مدني ټولنې بنسټونه

مدني ټولنه(Civil society) ظاهراً هغه سازمان ته وايي چې یو شمېر د خیر ښیګڼې کسان چې مدني فعالان (Civil Activist) بلل کېږي، په‌کې راټول او له کوم مادي ګټې پرته خلکو ته خیریه کارونه ترسره کړي، خو په اصل کې دغه ټولنې هغه غربي بنسټونه او فعالان یې د غرب هغه بې‌وسلې سرتېري دي چې په غیرنظامي برخه کې د لوېدیځ استعمار موخې تطبیقوي. په اسلامي هېوادونو کې د غرب له خوا جوړ شوي د مدني ټولنې بنسټونه ډېری په دې نوم فعالیت کوي چې ګواکې له دولتي ادارو څخه جلا د ولس له منځه راټوکېدلي خدایي خدمتګاران دي او دنده یې له دولت څخه د ولسونو د حقونو ترلاسه کول او هغوی ته د هوسا ژوند زمینې برابرول دي، خو په حقیقت کې د مدني ټولنې فرهنګ او پدیده په غربي کپیټلیستي نظامونو کې د سترو پانګوالو له‌خوا رامنځته شوې او تر ډېره د هغوی د مافیايي ګټو د تأمین او د دیني ارزښتونو پرضد کارول کېږي. له همدې امله ویلی شو چې دغه بنسټونه د امریکا استعماري موخو د تحقق لپاره بله خطرناکه لومه ده.

همدا لامل وو چې کله غربیانو افغانستان اشغال کړ او دلته د خلکو دیني توجهاتو او له اشغالګرو او غربي عناصرو څخه د هغوی کرکې ته متوجه شول، نو د ځان په ګټه یې د عامه اذهانو بدلون، د غربي مدني ارزښتونو د ترویج او له اسلامي هغو څخه د خلکو په تېره بیا ځوان نسل د لېرې کولو او انفصال لپاره د مدني ټولنې بنسټونو په نوم تشکیلات رامنځته کړل او یو شمېر بې دینه، غربي پلوي او د اشغال پلویان یې په‌کې په دندو وګمارل.

دغه مهال د مدني ټولنې په نوم یو زیات شمېر بنسټونو د ټولنیزو ــ فرهنګي فعالیتونو په نوم د اشغالګرو استخباراتي پروژې عملي کولې چې د عدلیې وزارت د معلوماتو پر بنسټ یې شمېر د ۱۳۹۹کال په وروستیو کې ۳۹۳۵ ته رسېده. دغو بنسټونو په پوره قوت سره د یرغلګرو ملاتړ کاوو او د حجاب خلاف او غربي فرهنګ دودولو لپاره یې له شرمه ډک فعالیتونه ترسره کول چې ښه بېلګه یې د ۲۰۱۵کال په مارچ کې په کابل کې د دغو عناصرو له‌خوا د خره لپاره د لمانځغونډې جوړول وو. په دغه غونډه کې چې د هېواد د بېلابېلو ولایتونو مدني فعالانو ګډون کړی و، په افغاني ټولنه کې د خره پر وړاندې ظلم وغندل شو چې ګواکې دلته د خره قدر نه‌کېږي. ځینو خو حتی د پخواني شوروي پر وړاندې د جهاد پرمهال خر له مجاهد څخه هم غوره وباله او هغه ته یې د نر خطاب وکړ.

دغه غونډه ظاهراً د څو تنو هغو لیکوالانو، شاعرانو، انځورګرانو او ژورنالیستانو له‌خوا چې له امریکایي اشغال وروسته د مدني فعالانو په نامه ځلېدلي وو، د خره لمانځنې په هدف جوړه شوې وه، خو اصلي هدف یې د عیسویت او یهودیت دین د ترویج لپاره هڅه وه ځکه چې خر په عیسویت او یهودیت کې یو سپېڅلی حیوان دی او یهودان په دې باورد دي چې الله ﷻ د ځمکې پر مخ له ټولو وړاندې «خر» پیدا کړی ځکه خو هغوی خره ته د «لومړني مخلوق» په سترګه ګوري.

د یهودانو په تحریف شوي کتاب تورات کې هم په لسګونه ځله د خرو یادونه شوې ده. همدارنګه د یهودیزم په ۶۱۳قوانینو کې د خرو په لمانځلو او قدرکولو ټینګار شوی، هغوی د «خره آزادۍ» په نامه یو ډول مذهبي مراسم هم لري چې په کې بېلا بېل پروګرامونه ترسره کېږي. د یوې اسرائیلۍ ورځپاڼې «یورشلم» د ریپورټ پر بنسټ اسرائیلو د ۱۹۷۲کال د ډسمبر په ۱۲مه له ایتوبیا څخه یو خر په ۹۰ زره ډالره وپېره او خپل هېواد ته یې راووست. د دغه خره په باره کې یهودان په دې باور وو چې له هغه نسله دی په کوم باندې چې عزیر (علیه السلام) سپور شوی و. یهودان د خرو دغه نسل «توراتي خر» بولي ځکه چې د دوی په تحریف شوي تورات کې یې یادونه شوې ده.

له دې سربېره د ۲۰۱۵کال د مارچ پر اتمه یو شمېر مدني فعالانو چې چادرۍ یې په سر وې، په کابل کې د حجاب پرضد لاریون وکړ او په خپلو شعارونو کې یې ویل، چې د ښځو په چادریو کې زړه تنګېږي او هغه باید له افغاني ټولنې څخه واپستل شي. دغه ځوانان د ګوتو په شمېر وو خو په دغه کار سره یې ټولو افغانانو ته چیلنج ورکړ؛ ځکه د دوی پر وړاندې نه عامو افغانانو او نه هم دولت کوم اقدام وکړ.

که څه هم هغه مهال ډېری دغو ټولنو ځانونه داسې معرفي کول چې ګواکې کوم عایداتي مدرک نه‌لري او د خلکو په اعانو او د خپلو غړو د حق‌العضویت په پیسو سره ځانونه چلوي او خپل لګښتونه پوره کوي، خو د هغوی ورځنیو لګښتونو، میاشتنیو معاشونو او مجللو دفترونو ته پام سره دا له واقعیت څخه لېرې خبره وه او په اصل کې دغه ډول بنسټونه د بېلا بېلو بهرنیو استخباراتي شبکو له‌خوا تمویلېدل او د هغوی په ګټه یې فعالیتونه ترسره کول.

اسلام دین جامع است و پلان منظم برای زندگی بشر دارد

مجاهد

دین اسلام دینی است که در همه‌ی شئونات زندگی برای بشریت برنامه، رهنمود و پلان جامع دارد.

خوشبختانه که نظام اسلامی ما امروزه در افغانستان به صورت هدفمند و سیستماتیک رهنمودهای دین را یکی پی دیگر تطبیق و یا در حالِ اجراء قرار داده اند.

دینامیسم به عنوان ارزشِ فوق العاده ای در افغانستان مطرح بوده و در جهت تطبیق این ارزش بزرگ صدها هزار شهید در چند دهه پسین به درگاه ایزد منان تقدیم گردیده است. لذا بحث انسان مؤمن این سرزمین با سکولارهای سست عنصر و دون صفت متفاوت است. سکولارها که با تصورات غلط و تبلیغات رسانه ای مردم را از دین می ترسانند، در حالی که اکثریت مردم از ارزش‌های دینی استقبال می‌کنند و آن ارزش ها را در تمام عرصه‌های زندگی خویش عملی می سازند.

هر مؤمن این سرزمین مسؤولیت دارد، که در تمام زندگی کارهایی را که انجام می دهد فاعل کار به عنوان پولیس و ناظر نامرئي اعمال خوب و بد خویش باشد، که چقدر آن اعمال در چهارچوب دین و مطابق رهنوردهای از قبل تعیین شده اسلامی بوده و چقدر از چوکات رهنمودهای دینی عدول داشته است.

دین فقط آن پنج رکن اساسی نیست، بلکه از بدو تولد تا یوم رستاخیز برای من و تو انسان برنامه دارد. از طرز لباس، پوشش، رفتار ، کردار و گفتار تا ساختن خانه و دکان، تجارت و کسب کار و غیره. یکی از ارزش‌های مهم دین اسلام جامعیت آن است، که در تمام عرصه‌ها و شئون زندگی هر فرد رهنمود و دستورالعمل و برای هر حالت بشر راهنمایی دارد. برای کودک، نوجوان، جَوان، میان سال، کهن سال، مرد و زن رهنمود و برای هر فرد، جامعه و حکومت دستور العمل، پلان و راهنمایی دارد.

هر شخص متدین خردمند مسئول است، که سعی کند هدایات و رهنمودهای دین را در همه‌ی مسایل زندگی بداند. به طور مثال کسی میخواهد ازدواج کند، باید بداند دین در این



مورد چه راهنمایی دارد؛ معیار انتخاب همسر چیست؛ مهریه، خرج و نفقه همسر چگونه باید باشد؛ مراسم ازدواج و عروسی چگونه باشد.

در مورد ازدواج و نکاح دستورالعمل داریم که هیچ‌گونه نقصانی در آن نمی تواند وَارد شود.

شخص متدین مسؤولیت دارد، که از طریق ازدواج پیمان زناشویی ببندد و یک زندگی پاک و بی آلایش داشته باشد و در چنین زندگی حکمت های بزرگ وجود دارد، عقل، شعور و دانش انسانی نیز چَنین اقتضای دارد. اما هوس پرستان و فطرت های ناسالم دنبال راهی انحرافی می روند و گرفتار زنا و بی عفتی می‌شوند. درحالی که نکاح مایه‌ی خیر است و با آن نسل بشر حفظ می‌شود و رشته‌ی خویشاوندی بر قرار می ماند. حفظ نسب و شرافت برای هر انسان خرمند بسیار مهم است، بدون شک که زنا ظلم و جفای بزرگی به نسل بشری است. زنا تباهی را به دنبال دارد و ضد صحت ظاهری و بهداشت باطنی است. بیماری های مهلک مانند ایدز که امروزه مردم دنیا را تهدید میکند، علت علل اصلیش عدم اجرایی شدن رهنمود دین اسلام در مورد ازدواج است.

وقتی دستورالعمل دیگری اسلام را در مورد شخص که به دارعقبی انتقال پیدا می کند این است، که چگونه باید کفن شود، نماز جنازه برای میت خوانده شود، مراسم فاتحه خوانی چگونه باشد، دَین اش ادا شود و میراث وی تقسیم گردد. لذا دارا بودن برنامه مدون در همه‌ی امورات بشری حجت حقانیت دین اسلام را برمی تابد.

در عرصه تجارت باید احکام و رهنمودهای تجارت را آنچه اسلام تجویز کرده در منصه عمل گذاشت. در دور اول تشریع اسلامی بزرگان دینی دستور دادند، کسانی می توانند وارد بازار کار تجارت شوند، که احکام تجارت را فراگرفته باشند.

بنابراین فروشنده و خریدار متدین ملزم است، که قرارداد هر معامله را بر مبنی آموزه‌های دینی در نزد شاهدین، مقدار پرداخت نقدی و اقساط را ذکر کرده عقد و امضاء نمایند.

مواردی که معامله را فاسد می‌کند و در آن احتمال ربا است بدانند و از معامله‌ای ناجایز اجتناب گردد، شاید فلسفه‌ی برخی احکام و رهنمودهای اسلام را که با عقل بشری قابل حل نیست و بعضی های که مشغول تجارت هستند ندانند، لازمی است که به دستورالعمل دین برای تجارت مراجعه گردد. وقتی دستورالعمل جامع امت اسلامی(قرآن کریم)اعلام نمود که ربا حرام است، مشرکین گفتند: (بیع مثل ربا است) یعنی چطور بیع و ربا که مثل هم هستند احکام متفاوت دارند؟؛ برای مشرکین در قرن اول هجری مثَل سکولارهای کنونی افغانستان، که علیه هر فرمان و رهنمودهای نظام اسلامی از طریق رسانه‌های مزدور قلم فرسای می‌کنند، تفاوت معاملات جایز و معاملات ربوی قابل درک نبود و عقل شان این حکم الهی را نمی پذیرفت.

اما یک تاجر متدین باید بداند، که دستورالعمل دین مقدس اسلام و نبی مکرم مسلمانان ربا راَ حرام قرار داده اند.

دین در مورد دزدان، رهزنان، باج گیران، غاصبان و غیره افراد از این تیپ مردم پلان و راهنمایی دارد.

به دست آوردن پول از این طریق ها زندگی انسان‌ها را تباه می کند، که نسخه‌های تباهی، معنویت، مسخ عقل و فطرت و ضایع شدن سلامتی روحی و جسمی را به دست خود می نویسند.

در دستورات و راهنمایی های دین حکمت موجود است، احکام و دستورالعمل های اسلامی یک کالبد و یک روح دارند، از پنج رکن اساسی گرفته تا مسایل ازدواج و غیره همه‌ی این احکام و دستورالعمل ها برای این است تا در انسانیت تواضع و فروتنی، اطاعت و بندگی، سخاوت و بزرگ منشی پیدا شود و بخل، حرص، حب جاه و حب مال از بین برود و انسان تزکیه و اصلاح شده و به معنی واقعی انسان گردد، به تکامل برسد و به سوی پروردگار عالم عروج کند.

بنابراین موفقیت انسان‌ها به این است، که از آغاز زندگی تا انتقال به دارعقبی از دستورالعمل های مدون دین مبین اسلام که رهنمودهای ارزشمندی برای بشریت محسوب می گردد، استفاده بهینه نمایند.

عمر فاروق رضی الله عنه نماد پُر اُبهَت نظام های اسلامی است

محمدمجاهد

آشنایی و شناخت با خلیفه دوم اسلام، چه از حیث احوال فردی و چه از حیث جنبه های اجتماعی بر همه‌ی پیروان مکتب فکری عمر سوم لازم و ضروری است.

فاروق اعظم از جمله شخصیت های معدودی بود که در سال ششم بعثت تحت تأثیر آیه های کلام رب العالمین قرار گرفت و از یک فَضای تاریک کفری و جهالت به فضای روشن ایمان و نورانیت قدم نهاد. و تحت تربیت مستقیم و مستمر نبی مکرم اسلام قرارگرفت.

رفتار، کردار و اخلاق این صحابی و دومین یار رسول الله (ص) بدون شک یکی از نسخه‌های اصیل اسلام عصر پیامبر (ص) به شمار می آید. لذا نیاز اساسی است، که رفتار و کردار عمر (رض) نخست سر مشق، الگو و نماد راستین اسلام عزیز در سرزمین اسلامی ما افغانستان قرار گیرد.

این صحابی بزاگوار در دوران امارتش در جهت گسترش اهداف منحصر به فردی در بُعد نظامی، فرهنگی، اقتصادی و اداری نظام اسلامی به اقدامات مُحیرالعقولی مبادرت ورزیده است، که پاسداری از آن ضوابط، عوامل و دستورالعمل ها وظیفه همه‌ی کسانی است که به جهان شمولی دین اسلام اعتقاد جازم و راسخ دارند. بدون شک کسانی که درفشِ سفید رنگ نظام اسلامی را در افغانستان به اهتزَاز درآوردند و تحقق آرمان‌های شهدای دو دهه پسین را در دل می‌پرورانند و باالگوی گیری از عدالت عمر رضی‌الله‌عنه وارد معرکه شدند و گلیم اشغال، استکبار، طاغوت، ظلم، فساد، فحشاء، تعصب، تبعیض را برای همیشه از این سرزمین بیگانه ستیز برچیدند جزء لاینفک سپاهیان صدر اسلام محسوب خواهند شد.

امیرالمؤمنین در بُعد نظامی، که به گواهی تاریخ در رهبری اردوی سی هزار نفری قرار داشت، توانست در یک زمان دو اردوی مجهز و نیرومند شهنشاهی فارس(ایران) و امپراتوری روم را از قلمرو انتشار دین اسلام برچیند و بیرق یکتاپرستی را بر ارتفاعاتِ دو قاره آسیا و آفریقا به اهتزاز در آورد.

بشریت و تمدن مدرن امروزی را به حیرت آورده، که امیرالمؤمنین از چه ضوابط، مقررات و فورمول های استفاده می کرده، که توانسته با یک اردوی سی هزار نفری اهرمِ قدرتمندی بسازد، که دو فوج و سپاه استکباری را از مدینه تا نهاوند و اسکندریه از صحنه خارج کند.

پَرواضح است، که هرگاه اصول، ضوابط و فورمول های اهرم قدرت اسلامی شناسایی و بازسازی شود، نه تنها اثری از سُلطه ای خارجی و استعمارگری در کشورهای اسلامی نخواهد ماند، بلکه دوران شکوه، عظمت، عزت و تعالی مسلمین بروزرسانی می شود و جهان شمولی این دین آسمانی متحقق تر خواهد شد.

نمونه بارز فورمول فوق الذکر در سرزمین عمر ثالث با نگاه عادلاَنه و تاریخ باشکوه این کهن و بوم بر قابل رؤیت است، که با سپاه ششصد هزار نفری سی و هشت اردوی تا دندان مسلح استکبار را به زانو درآورند.

امیرالمؤمنین در بُعد فرهنگی و اداری توانست مقرراتی را توأم با روحیه قوانین اسلامی با حفظ تمام هویت های اتنیکی و ویژگی هایی فرهنگی به اندازه ای، در دو قاره آسیا و آفریقا بَسط و گسترش دهد، که مدنیت معاصر و با بصیرت کنونی تشنه‌ی این است، که عمر رضی‌الله‌عنه با کدام دانش و بینش و با استفاده از کدام دستگاه ظریف و حساس و گسترش دهنده ای اجتهاد اسلامی، این دین سماوی را با حفظ همه‌ی ویژگی های فرهنگی بر عرض و طول قاره آسیا و آفریقا گسترش و این همه دوایر فرهنگی و تشکیلات پیچیده اقتصادی، اداری و اجتماعی را با تایید شوراهای مهاجرین و انصار، در پهنه‌ی کشورهای آسیایی و آفریقایی سازماندهی نموده بود.

